## معلولیت



که چیرې تاسو یو معلولیت لرونکی شخص یاست، هغه که د لید وړ وي یا نه (ذهني، فزیکي یا عاطفي)، د استوګنځي بالقوه یا فعلي چمتو کوونکی کیدای شي ستاسو د معلولیتونو د ماهیت یا شدت په اړه پوښتنه وکړي. همداراز کیدای شي د استوګنځي په معامله کې یو شخص د کورنۍ د غړو، مراجعه کوونکو، آشنا کسانو یا ملګرو د معلولیت په اړه پوښتنه وکړي. که چیرې د یوه کرایه نشین معلولیتونه دا غوښتنه وکړي چې د استوګنې له ځایه د استفادې او خوند اخیستو لپاره باید کومه **پالیسۍ/قاعدې ته استثنا ورکړل شي، یا کوم جوړښتي بدلون** رامنځته شي، نو کرایه نشین **کولای شي داستوګنځای له چمتو کوونکي څخه د مناسبې اسانتیا غوښتنه (د قاعدې یا پالیسۍ اړوند) یا د مناسب بدلون** غوښتنه (جوړښتي) وکړي. یعنې په ټوله کې له لومړیتوب لرونکي پارکینګ سره، یو حرکتي معلولیت لرونکی شخص کیدای شي د پارکینګ د یوه ریزرف شوی ځای غوښتنه وکړي. په ټوله کې، له استوګنځي سره لږ یا هیڅ لګښت نشته دی. په همدې حال کې، له بدلونونو سره (د چنګک د میلې نصبول، شیب لرونکي سطح او داسې نور) معمولاً اجاره کوونکی د سموني لګښتونه ادا کوي او کولای شو له هغوی څخه غوښتنه وکړو چې هغه په ورته طریقه سره ترسره کړي. همداراز کیدای شي اجاره کوونکی د چمتو کوونکي لخوا اړ شي چې جوړښت بیرته خپل لومړني حالت ته وګرځوي.

**د سرتیري توب/متقاعد سرتیري**

والي حالت: نظامي والی یا د تقاعد پر بنسټ د سربازی له خدمت څخه لرې کېدل باید ستاسو د استوګنځي غوراوي محدود نه کړي. "ببښنه غواړم، زه نشم کولای تاسو ته یې په کرایه درکړم — تاسو کولای شئ اړیکه ونیسئ او د کرایې وخت پایته ونه رسوئ" د استوګنځي په برخه کې توپیري چلند دی. که چیرې تاسو بیرته وغوښتل شئ، تاسو له مالي جریمې پرته د اجارې د پرښودو حق لرئ. که چیرې تاسو د خدمتونو اړوند معلولیت لرئ، تاسو کولای شئ د استوګنځي له یوه چمتو کوونکي څخه وغواړئ چې تاسو یو معقول استوګنځي یا په پورته دول ذکر شوي معقول بدلونونه رامنځته کړي.

## مدني حالت

په واشنګټن آیالت (WA) کې مدني حالت، د استوګنځي چمتو کوونکي منع دي چې د مجردوالي، مدني حالت، کونده(ی) والي، جلا کېدو یا طلاق پر بنسټ د کرایې ورکولو څخه ډډه وکړي یا بېلابېل شرایط او مقررات وړاندې کړي. "ببښنه غواړو، موږ غواړو تاسو ته کور په کرایه درکړو، مګر غواړو تاسو یوه ښه جوړه، مسلکي شخص او په کور کې یو واده شوي جوړه وئ" کیدای شي دا کار د استوګنځي په برخه د شکایت ثبتولو لامل شي.

---

د یوه ځای د کرایه کولو لپاره د یوه شخص وړتیا باید د غوښتنې د معیارونو، د اجاره کوونکي د سکرینګ ترسره کولو (د کرېډټو راپور، جنایي مخینې، د کرایې د مخینې چک) او د واحد اړوند د مالي مسوولیتونو ترسره کول وي. ملکیت باید د خپلو ځانګړنو (د خوب خونې، حمام، ګراج، برنډې او داسې نورو مواردو) پر بنسټ ذکر شي او په اړه یې تبلیغ وشي، نه د کسانو د دول (لکه، لویانو، جوړو، د متحده ایالاتو اتباع، یوازې ښځینه وو او داسې نورو) پر بنسټ چې د استوګنځي چمتو کوونکی یې غوره ګڼي.

---

که چیرې تاسو فکر کوئ چې د استوګنځي په معامله کې له تاسو سره توپیري چلند ترسره شوی دی نو له لاندې برخې سره اړیکه ونیسئ:


Northwest Fair Housing Alliance
35 W. Main Ave, Suite 250
Spokane, WA 99201

ټیلیفون. 509-325-2665
1-800-200-FAIR (3247)
فکس: 1-866-376-6308
www.nwfairhouse.org


موږ کولای شو تاسو ته د ستاسو د غوراوېو په برخه کې سپارښتنه وکړو او ستاسو وکالت یا استازیتوب وکړو. زموږ خدمتونه وړیا دي.


هغه کار چې د دې خپروني د بنسټ ایښودلو لپاره یې زمینه برابره کړه تر یوې کچې پورې د متحده ایالاتو د استوګنځي او ښاري پراختیا وزارت د بلاعوضه مالي مرستو لخوا یې ملاتړ ترسره کیده. NWFHA په دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او شاملو تشریحاتو مسوولیت په غاړه لري. 4/16




# د عادلانه استوګنځي حقونه





**NORTHWEST FAIR HOUSING ALLIANCE**

(509) 325-2665
1 (800) 200-FAIR (3247)
www.nwfairhouse.org

# عادلانه استوګنځی: دا ستاسو حق دی!

**د واشنګټن ایالت (WA) فدرالي**

- نژاد
- رنګ
- ملي ریښه
- دین
- جنس
- معلولیت
- د کورنی حالت (په کورنی کي ماشومان)

- مدني حالت
- جنسيتي تمايل/جنسيتي هويت
- متقاعد سرتیری/نظامي حالت

د واشنګټن ایالت د یوه اجاره کوونکي په توګه، د عادلانه استوګنې فدرالي قانون (FHA) تاسو ته دا حق درکوي چي د نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، جنس، معلولیت او د کورنی حالت (د ماشومانو لرل یا نه لرل) پر بنسټ له توپیري چلند پرته د استوګنې مساوي فرصتونه ولرئ او قانوني خوندیتوب درکړل شي. په واشنګټن آیالت (WA) کي، د توپیري چلند پر وړاندي د واشنګټن آیالت قانون (WLAD) تاسو ته د استوګنځي په برخه کي د لاندې مواردو لپاره اضافي خوندیتوبونه وړاندي کوي: مدني حالت، جنسيتي تمايل/جنسي هويت او د نظامي خدمت څخه متقاعد والي/نظامي حالت.
د عادلانه استوګني فدرالي قانون (FHA) او د واشنګټن ایالت د تبعیض ضد قانون (WLAD) د استوګنې د معاملې ټول پراوونه تر پوښښ لاندي راولي: د استوګني لټون، غوښتلیک او ارزونه، د کرایي تړون، د کرایه نشین بیمي اخیستل، د کرایي د تړون شرایط او احکام، د تړون نوی کول، د کرایي تړون پای ته رسول او د استوګني پریښودو بهیر.
که چیري تاسو د استوګنځی د چمتو کوونکي د سکرینینګ معیارونه منئ او کولای شئ د ضمانتونو، اجارې او د تبلیغاتو اړوند لګښتونه ادا کړئ، تاسو باید په دې برخه کي د پریکړي کولو په برخه کي آزاد لاس ولرئ چي د خپل ځان او یا کورنی لپاره مناسب استوګنځی انتخاب کړئ.



## نژاد، رنګ، ملي ریښه


د امریکا د انتروپولوژی یا انسان پیژندنی د ټولنی یوه پروژه http://www.understandingrace.org/home.html

د اپارتمان په یوه ځانګړي برخه یا زینه کي د استوګنځي څخه محرومېدل- د لا زیاتو کسانو لپاره ځایونه دا ستاسو پر وړاندي د استوګنځي په برخه کي توپیري چلند ګڼل کېږي.
که چیري تاسو د استوګنځي اړوند له یوه تبلیغ سره اړیکه ونیسئ او د ټیلیفون له لارې ټول شیان د لاسرسي وړ ښکاره شي، مګر کله چي تاسو په شخصي ډول د لیدلو لپاره حاضر شئ او نور د لاسرسي وړ نه وي، کیدای شي تاسو د استوګنځي اړوند د توپیري چلند ادعا وکړئ.



## دین/عقیده

د یوه استوګنځي لپاره تبلیغات باید ټول دیني او غیر دیني توصیفات او لومړیتوبونه حذف کړي. هغه اعلانونه چي یوازې یوه ځانګړې کلیسا د استوګني د جلب لپاره یادوي، ممکن د عادلانه استوګني د سرغړوني دعوه را وپاروي، مګر که د سیمې ټولي کلیساوي یادي شوي وي، دا اندیښنه کمیږي، ځکه داسي ښکاري چي ګواکي د استوګني چمتو کوونکی یو ځانګړی ډول خلک هڅوي، ترجیح ورکوي، یا نور خلک له غوښتنلیک ورکولو څخه منع کوي.

## جنسیت

استوګني عادلانه د قانون (Fair Housing Act) له مخې جنسیت، یو احتمالي یا اوسنی د استوګني چمتو کوونکی منع دی چي کرایه نشینان جنسي ډول وځوروي، جنسي وړاندیزونه ورته وکړي، یا د استوګني، استوګنیزو اسانتیاوو (لکه د وسایلو نوسازي، د پارکینګ ځای، او نور) یا د کرایه نشین د خدماتو (لکه ترمیم، د خدماتو ساتنه، یا د تړون نوی کول) په بدل کي له هغوی څخه د جنسي ېګني غوښتنه وکړي.

## د کورنی حالت – (کوچنیان په کور کي)

د عادلانه استوګني قانون دا غیرقانوني ګڼي چي د استوګني چمتو کوونکي د هغو احتمالي یا اوسنیو کرایه نشینانو پر وړاندي توپیري چلند وکړي چي ماشوم/ماشومان لري، د ماشوم زیږولو تمه لري یا د ماشومانو د منلو یا پالني په بهیر کي دي.
دویم، دا چي د ماشومانو اړوند له اندازې زیات محدود کوونکي قوانین باید له توپیري چلند ډک وګڼل شي، ځکه د استوګنځي معیارونه باید په یو ډول پلي شي، هغه که چیرې اجاره کوونکی لوړ عمر لرونکی یا ماشوم وي.
د بیلګې په ډول "د پلي تګ په لارو کي له ماشومانو سره د لوبو توکو نه لرل" توپیري چلند ګڼل کېږي. "د تګ راتګ په عمومي لار کي د شخصي توکو لرل سم نه دي."



سربیره پر دې، د ماشومانو لرونکي کورنی نشي ټاکل کېدای چي یوازې د ځمکي د پوړ واحدونه کرایه کړي، دا ځکه چي "ماشومان شور جوړوي."همدارز، هغوی ته نشي انکار کېدای چي د ځانګړو ځانګړتیاوو لرونکو ملکیتونو (لکه ګڼ ترافیک لرونکي کوڅې، بالکونه، سونا خوني یا اورځایونه) کرایه واخلي، د دې پلمه لاندي چي "دا ځایونه ماشومانو ته خطرناک دي." دا ډول چلند د عادلانه استوګني د قانون خلاف ګڼل کېږي.
په پای کي، هغه ځایونه چي په ځانګړي توګه یوازې د لوړ عمر لرونکو لپاره (55+، 62+) لیبل پري وهل شوی دی، باید خورا زیاتي ځانګړې لاربښوونې رعایت کړي تر څو له دې قانون څخه مستثنا وګڼل شي. د ملکیت یو خصوصي ښتن چي د (یوازې د لویانو لپاره) د ټولو لاربښوونو په پام کي نیولو پرته تبلیغ ترسره کوي، دوی د عادلانه استوګنځي قانون تر پښو لاندي کوي.